مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالوحيد وحيد

۲۰۲۶/۰۶/۲۹

# ستراتيژيکه ژورتيا که ستراتيژيکه ناکامي؟

که د پاکستان د "ستراتيژيکي ژورتيا" تګلارې په هکله داسې انډوليزه او ناپييلي ارزونه کوو، چې د حکومتي څرګندونو پرځای په عيني واقعيتونو باندې ولاړه وي او د تېرو څو لسيزو تاريخي تجربو انعکاس پکې ځای شوی وي، نو بايد د رسمي چينلونو او وياندويانو له څرګندونو څخه ورهاخوا د دغې تګلارې انګېزې او اوږدمهالي سيمه ييزې پايلې وڅېړل شي.

پاکستان تل د افغانستان په هکله خپل د نفوذ موندلو سياست د ملي امنيت په نوم توجيه کړی دی، او استدلال يې دا دی چې په کابل کې يو دوست حکومت د هند له احتمالي محاصرې څخه د مخنيوي او له لويديز لوري څخه د پاکستان د خوندي کولو لپاره اړين دی. اندېښنه داده چې که واقعاً د پاکستان انګېزه د ستراتېژيک برلاسي د ترلاسه کولو په موخه نه، بلکې په ريښتوني ډول د امنيتي اندېښنو پر بنسټ وای، نو د تېرو پنځوسو کلونو ناکامه او زيان اړوونکې تجربې بايد د دغه هيواد لپاره په خپلو تګلارو باندې د بياکتنې لامل شوې وايي.

د شوروي يرغل، د امريکا جګړه، او د ناټو اوږد پوځي شتون وښوده چې په افغانستان کې د زور کارول د اوږدمهاله سياسي اهدافو د ترلاسه کولو لپاره بريا نشي رامنځته کولای. برعکس، پوځي فشارونه د افغانانو ترمنځ د پرديو په وړاندې د مقاومت روحيه پياوړې کوي، د بې‌ثباتي او دښمنۍ د زياتېدو سبب ګرځي. له همدې امله، د زور پر بنسټ د ولاړې تګلارې دوام د هغو شرمونکو پايلو د بيا تکرار خطر زياتوي چې د افغانستان په معاصر تاريخ کې څو ځله تجربه شوي دي.

د دې تر څنګ، تاريخي شواهد هم د پاکستان دغه ادعا نه تاييدوي چې د افغانستان لخوا دې د هند او پاکستان ترمنځ شته رقابتونه د پاکستان پر ضد د ستراتيژيکي وسلې په توګه کارول شوی وي. دغه موضوع هغه شننې او ارزونې پياوړې کوي چې وايي افغانستان هيڅکله د پاکستان او هندوستان ترمنځ له رقابتونو څخه د وسيلې په توګه کار نه دی اخيستی او داچې د پاکستان دغه درېځ د امنيتي اړتياوو له مخې نه، بلکې د پراخو سيمه‌ييزو اهدافو د پلي کولو لپاره يوه ستراتيژيکه پلمه ده.

که څه هم د دې تګلارې ترشا د پرتو پټو ارادو په اړه قطعي ثبوت نشته، خو د تېرو څو لسيزو تحولاتو ته په کتو داسې ښکاري چې ستراتيژيکه ژورتيا د هغو موخو لپاره نه وه چې پاکستان له افغان ګواښونو څخه خوندي کړي، بلکې هدف دا وو چې افغانستان په داسې حالت کې وساتل شي چې د تل لپاره د پاکستان د نفوذ په ساحه کې پاتې شي.

د ستراتيژيکي ژورتيا دوکتورين يوه بله مهمه ستونځه له وسله‌والو ډلو سره د پاکستان اوږدمهاله اړيکې دي. په تيرو لسيزو کې پاکستان د افغان شخړو پر مهال د بېلابېلو وسله‌والو شبکو د ملاتړ، هغوی ته د اسانتيا برابرولو يا لږ تر لږه د پناه ورکولو په تور د ګڼو حکومتونو، شنونکو او نړيوالو بنسټونو لخوا تورن شوی دی، خو داسې بيلګه نشته چې پاکستان دې له تيرو پنځو لسيزو راپديخوا د کابل واکمنانو په وړاندې له جنګيدونکي ډلې څخه ملاتړ نه وي کړی او همدغه يوه سواليه نښه ده چې پاکستان ولې د تل لپاره د عمل په ډګر کې له نظام څخه نه بلکې د هرې حاکمې ډلې په وړاندې يې د وسلوالو مخالفينو ملاتړ کړی دی.

ايډيالوژيکي وسله والې ډلې په پيل کې د ستراتيژيکو موخو د ترلاسه کولو او نفوذ پراخولو لپاره د وسيلو په توګه کارول کېږي، خو تاريخ په تکراري ډول ښودلې چې نظرياتي وسله‌وال سازمانونه تل د خپلو ملاتړکوونکو له اوږدمهاله ګټو سره وفادار نه پاتې کېږي. د سياسي او امنيتي شرايطو له بدلون سره، دغه ډلې خپلواکې اجنډاوې تعقيبوي، په بېلابېلو ډلو وېشل کېږي، او په تدريجي ډول د هغو استخباراتي چينلونو له کنټرول څخه وزي چې يو وخت يې د ستراتيژيکو وسايلو په توګه کارول.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ

له همدې امله، هغه عناصر چې یو وخت  د مشخصو موخو لپاره ګټور ابزار ګڼل کېدل، وروسته د هماغو دولتونو لپاره د امنیتي فشار او بې‌ثباتي سرچینې ګرزي. پاکستان په همدغه رنځ اخته دی او په افغانستان کې د د پاکستان ضد وسله‌والو ډلو شتون که احیاناً ثابت هم شي، نو یوازې د افغان سیاستونو یا هم د افغان حکمرانانو د نیتونو پایله نه ګڼل کېږي، بلکې تر ډېره د پاکستان د هغو اوږدمهالو تګلارو انعکاس دی چې د ستراتیژي پربنسټ یې روزلي وي او یا هم له امریکا سره د ترهګري په وړاندې جګړه کې ددغه هېواد د شراکت پایله ګڼل کېږي.

د دوه اړخیزو همکاریو پر ځای نفوذ ته د لومړیتوب ورکولو پاکستاني تګلارو افغانستان له یوه بالقوه سیمه‌ییز شریک څخه د نیابتي تګلارو، او متقابلې بې‌باورۍ په  اوږدمهاله ډګر بدل کړ. په دغه هېواد کې د نفوذ د ترلاسه کولو هڅو په وړاندې حساسیت او مقاومت رامنځته شو او یو داسې اوږدمهاله امنیتي معما یې وزېږوله چې د دواړو هېوادونو ترمنځ باور یې په تدریجي ډول له منځه یووړ.

د ستراتېژیک عمق زیانونه یوازې په افغانستان پورې محدود نه دي، بلکې د وخت په تېرېدو سره د دغې تګلارې له امله د پاکستان خپلو اوږدمهالو ګټو ته هم زیانونه ورسیدل. سیمه‌ییزه بې‌ثباتي یې پیاوړې کړه، د اقتصادي ادغام او له رامنځته شویو سیمه‌ییزو فرصتونو څخه د ګټو پورته کولو امکانات یې کم کړل، او پاکستان یې په هغو اوږدمهاله امنیتي ننګونو کې ښکېل وساته چې لا هم د سیاسي مالي او پوځي سرچینو لویه برخه مصرفوي. د دې پر ځای چې ستراتیژیک انعطاف زیات کړي، یادې تګلارې د پاکستان د انتخاب ساحه لا تنګه کړه، افغان ذهنیت یې د پاکستان په وړاندې راوپاراوه او د تقابل هغه کړۍ یې پیاوړې کړه چې ماتول یې ورځ تر بلې سختېږي.

که لیکنه را لنډه کړو، نو  تاریخي شواهد ښیي چې د پاکستان د ستراتیژیک عمق تګلارې خپلې اعلان شوې موخې نه دي ترلاسه کړې، بلکې په معکوس ډول یې پاکستان ته د نورو ستونځو ترڅنګ امنیتي ستونځې هم زیږولې دي. د دې پر ځای چې د افغانستان او پاکستان ترمنځ تلپاتې امنیت او باثباته اړیکې رامنځته کړي، یادې تګلارې د بې‌ثباتي، بې‌باوري او پرله‌پسې شخړو رامنځته کیدو ته لاره هواره کړې ده. د تېرو پنځو لسیزو تجربې څرګنده کړې چې تلپاتې امنیت د نفوذ تر لاسه کولو له لارې نه، بلکې د متقابل درناوي، نه لاسوهنې او سیمه‌ییزې همکارې له لارې ترلاسه کېدای شي. له همدې امله، ستراتیژیک عمق د یوې بریالۍ ستراتیژۍ پر ځای د یوې ناکامې تګلارې په توګه ثابته شوې، چې اغېزو یې لا هم پر دواړو هېوادونو سیوری غوړولی دی او بدلون ته اړتیا لري.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ